مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۶/۰۳/۱۳

# هغه څوتکي چې زموږ هېر دي

## (ديارلسمه‌برخه)

**اقتصادی نظريات او ملی اړتياوې**

زموږ په ګران هېواد د انګليس د ناولي مولود يرغل او دمنځني ختيځ آشوب دا ثابته کړه چې د خاورې او خلکو دفاع په پياوړې اقتصادي زيربنا، پرمختللی تکنالوژي او پوهه(تعليم) کيدای شي. اوس دا حقيقت ومنل شو چې د اسلام مبارک دين د عزت دين دی، نه د فقر اوذلت. الله پاک تر محتاج لاس څخه اوچت او پياوړی لاس خوښوي. د علم حاصلول هم فرض دی او د معيشت لپاره اسباب مجهز کول اړتيا ده. بايد عزت مووساتو، ولس مو هوسا کړو او د سرومال د دفاع لپاره وسايل جوړ او د خلکو پوهه او معنوی توانايی اوچته کړو. د همدې تېرې يوې مياشتې پېښو همدا خبره ثابته کړه. تعليم بی ارزښته کول او هر مومن او مسلمان ته د علم له فرضيت د انکار پر ځای بايد د واقعي اسلام عدالتمحوره، عرفاني، عقلاني او انساني قرائت ته خير شو. دا ديني حکم او د مسلمانانوارمان هغه وخت پوره کيږي چې علم زده کړو.

دا چې هېواد مو کافی اندازه اوبه(روان سيندونه)، کرنيزې زمکې، مناسب اقليم، کافی اندازه د لمر وړانګې(په مناسبه زاويه اوکال کې تر ۲۹۰ورځوپورې!)، بادونه، له ډول ډول عناصرووبدای کانونه، ځوانه بشری نيرو( وګړي و۴۰٪ شاوخوا ځوان نفوس دی) لري، خو بياهم يو پرمختيايی هيوا دی، بېلابيلو عواملو يوبل سره لاس ورکړی او وضعيت يې بحرانی کړی دی. دا عوامل لکه:

- د سواد او تعليم دکچې ټيټوالی،
- پرله پسې راديکال سياسی بدلونونه، چې هريو يې له بنياده د خپل سلف نيم تمام پلانونه له منځه وړی او بيا له صفرشروع کوي،
- دوامداره نيابتي جنګونه، د زيربنايي تاسيساتو عمدي تخريب اوبی ثباتی،
- د اوهامو؛ په تيره د فتاليزم خپوروالی،
- وچې پورې تړلتيا( landlocked)،
- دبشری شاخصونو تر ټولو ټيټ بريد،
- دمهارتونو، نوښتيز فکر، حمايتي آدرسونو او د پرمختيا او ترقي د انګيزې نشتوالی،
- د انګليس د استعمار د د ورې بد ميراث،
- د چنګېز دټکي هغه لوی ټکان چې جبرانول يې لا اوس هم ستونزمن دي،
- دمنطقوي قدرتونو سيالي او لاسوهنې،
- د شاتګپالو تمرکز په کليوالي تفکر او له تعليم څخه پاتې وګړو باندې، چې دهيواد شاوخوا ٪۸۰ وګړي دي او خو نور عوامل.

اقتصادي نظريه په ډېر ښه ډول موږ ته د دنيا او آخرت د سرخرويي لاره راښيي( ښه ده ښه ده دا دنيا- چې توښه ده دعقبا). نظريه يا (Theory) د بشري پوهې او معلوماتو يوه مجموعه ده، چې په کره توګه ثابته شوي وي او دا راښيي چې په څه ډول سره د خپل فعاليت او د فعاليت شرايط تحليل کړو. اقتصاد هم لکه د نورو علومو په شان په نظرياتو متکي دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د تاریخ په اوږدو کې نظریات او د پوهې پراختیا او ارتقا دنظریاتو او مستدلو ثابتو شویو څېړنو او د افکارو پوخوالي پورې تړلې ده. نامتو فیلسوف هېګل وایي: دیوې پېچلې موضوع په اړه موږ د شواهدو او کتنو په پای کې حُکم کوو. دا حکم په یوه نظریه متکي وي چې د تیزس په توګه منل کیږي.
کېدای شي دېرنظریات تحول وکړي، اصلاح شي، نوې ځانګې ورڅخه جلا شي او هره یوه به تر یوه وخته زموږ غوښتنو ته ځواب وویلای شي. کیدای شي یو وخت ځینو نظریاتو کې نیمګړتیاوې رابرسېره شي او ځای یې بله نظریه ونیسي. دا نوې نظریه کیدای شي د هغې مخکنۍ برخلاف وي چې انتي تېزس یې بولو. دېر ځله د دوو، دریو نظریو له ګډون څخه سنتیز/سنتیزس رامنځته کیږي، سنتیزس یو داسې حُکم دی چې د نورو مخکنیو له تکامل جوړ او دا سلسله دوام مومي. دا فلسفي دیالکتیک دېر پیچلی دی. دی ته د هیګل د توپ وهلو نظریه او ځیني ورته ګام پرګام ارتقا وایي.







په دې توګه پوهه پرمخ ځي او ارتقا کوي او ورسره یوځای تولنه پرمختګ کوي. د سنتز بڼه هغه وخت راڅرګندیږي او په مانا یې پوهیږو چې مخکنیو دوو متضادو نظریو یا افکارو د ځانګړې وجهې په وړاندې راښکاره او یوه نوې نظریه یا نوی فکر جوړ شي، همدې ته ( سنتز) ویل کیږي. پورتنی موډل نه یواځې فلسفه، بلکې نورو علومو کې هم کارېدای شي، په تېره بیا اقتصاد کې؛ چې یو ټولنیز علم دی.
اقتصادي نظریات چې د مادي نعماتو له تولید، عرضې، تبادلې او د بیو ټاکنو او په نهایت کې له دېرو محدودو منابعو، دېرو زیاتو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په لټه کې دي، بدلیږي او تکامل کوي. په اقتصاد کې هم اړ یاستو چې:
۱. لکه د فزیکپوه، د بیولوژي د څېړونکي، ریاضیدان او فلاسفه ووپه شان د (مشاهده- نظریه) علمی روش څخه کار واخلو؛

۲.تېرو تجربو ته وګورو، منطقی استدلال وکاروو؛

۳. د معلوماتو(ارقامو/ data) د استقراء او استنباط قواعد رعایت کړو؛

۴. خپله فرضیه وړاندې کړو؛

۵. اقتصادي واقعیتونه تخمین، اټکل او دهغو بدلون او علتونو باندې پوه شو؛

۶. ثابته شوې بیلګې مخې ته کېږدو، لکه اینجنیر چې د ودانۍ له جوړولو مخکې د هغې یو ساده او کوچنی مکیت(الګو او موډل) جوړوي، په هغه فکر کوي او نورو ته یې هم د مشورې لپاره وربښیي. دې ته شبه سازي( simultaneity/تقارن) هم وایي.

د هرې سیمې منابع او ضرورتونه توپیر لري. ممکن یوه سیمه کې د تودوخې دزیاتوالي له امله یخچال او ایرکندیشن ته اړتیا وي، ممکن یو هیواد بیړیو ته اړتیا ولري، ممکن یو هیواد د مالداري منابع ولري او بل یو د معادنو له پلوه بډای وي... په دې توګه هر هیواد د منابعو(سرچینو)او احتیاجاتو له مخې توپیر لري. موږ ( PESTELسیاسی،اقتصادی، اجتماعي، تخنیکی، محیطي اوحقوقي) تحلیل ته هم مراجعه کوو. له همدې امله د هر هیواد اقتصاد پوه باید دخپلو شرایطو سره سم نظریات، تېس او انتی تېز وسنجوي. دا ځکه چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی) مهم پارامترونه هرځای کې یوبل سره فرق کوي، ځینې وخت د سیاسي چاروکو توصیې هم موجودې وي، نو دغو ټولو ته باید په مهارت او لیاقت سره وفق ورکړو.
دو یم ) علمی قضاوتونو کې اختلاف شته، خو په مشوره حل کیږي. یو شمېرارزشی عقاید او افکار توپیر سره لري.
د اقتصاد علم د وګړو د احتیاجاتوپوره کولو سره سروکار لري. باید د خلکو پر دسترخوان دخوړلو لپاره مکفی خوراک موجود، انساني کرامت محفوظ او غذایی مصئونیت ډادمن وي.
دغه علم د نظریاتو مجموعه ده. نظریه مونږ ته د اقتصادي فعالیت وضیعت توضیح او تفسیر کوي. باید هیره نه کړو چې نظریې په مطلق ډول نه، بلکې د انعطاف لرونکی او دبدلون وړ دي. دا اټکل منطقي اړخ لري چې ممکن یو وخت یو شمیر عوامل د اقتصاد پوهانو په واک کې نه وي، خو بل وخت به غوره عوامل د څېړونکو او پوهانو په واک او کنټرول کې راشي.همدارنګه کیدای شي اقتصادي متحولین بدلون وموومي، مایحتاج، عرضه، ارزښتونه، ذوق او نور فکتورونه بدل شي، چې دې ټولو ته باید نظریات(تیوري) ځواب ووایي، یعنی اقتصادي نظریات ارائه کول د همدغو عواملوتابع دي. علمی نظریات ډګم اوځای پرځای نه دي.
موږ له اوږدو کلونو را دېخوا د اقتصاد پوهنځیو کې (داقتصادي نظریاتو تاریخ) لولو/تدریس کوو. فزیوکراتان، تجاریون(مرکانتلستان)،... چې دا ټول د کلاسیکانو ردیف کې راولو، ورپسې نیوکلاسیکان او مدرن نظریات. اما دا زیاتره د صنعتي پرمختللو ټولنو تجارب دي. دوی لا مخکې له کرنې څخه صنعت ته د ورتلو، سمندرونو او آن فضا کې د اقتصادي منابعو لټون، تجارت، مستعمره هیوادو څخه د خامو توکو او آن د کارځواک لیږدول او ډېر نور تجارب تر لاسه کړل، خو موږ یو وچې پورې ایسار، د ځانګړو عنعناتو، ناپوهي او سنتی دودونو زنځیرونو کې تړلي، د پیاوړو زبرځواکونواغیز لاندې او د تکنالوژی محدودیت سره مخامخ خلک یاستو. زموږ د اقتصادي پوهې د ارتقا خنډونه هم د پام وړ دي. باید د خپلو ځانګړو شرایطو سره سم څېړنې وکړو او د ټولنی د هوساینې لارې وموږو.
پرمختللی هېوادونه دخپلې ملی بودجې ترنیمایي او له هغې زیاته برخه علمی څېړنو ته تخصیص کوي او د متخصصو مسلکی پوهانو فکري کار(تحقیقي فعالیت) ته زمینه برابروي. دوی شرایط تحلیل او خپلو ملی شرایطو سره سم، د منلو او تطبیق وړ نظریات رامنځته کوي. پرمختللی هیوادونه د لابراتوار ترڅنګ؛ think tank) د فکراتاقونه/ د مشاورینو ډله) لري، نظریات او طرحې جوړوي. دا هغه څه دي چې موږ ورڅخه بې برخې یاستو. لا مو هم بودجه په هغو لګښتونو مصرفیږي، چې هیڅ درد مو نه دوا کوي.
د اقتصادي نظریاتو تاریخ زموږ د پوهې افق پراخوي، تجربې تر لاسه کوو، خو کافي نه دي. د ټولو نظریاتو او آفاقي معلوماتو په رڼا کې موږ ته هغه سنتیز په کار دی چې خپله مو موندلی وي، دا خبره پورتني شکل څخه ثابتیږي، خو چې فکر ورباندې وکړو او تخصص ته درناوی وکړو.
**یادونه**: ولې دا مقالي برخه برخه دي؟
لږ موده وړاندې یو ګټور کتاب په ۶۸۸مخونو کې وژباړل شو. دا کتاب د افغانستان په شان یو هېواد ته ډېر ګټور دی. تقریباً هر مخ ګرافونه، معادلې، شکلونه او پیچلي بحثونه لرل چې یواځې د اقتصاد ماهرین به يې تحلیل کړای شي، خو عمومو مطالعه کوونکو او د آفاقي معلوماتو مینه والوته ستومانه کوونکي دي، نو ځکه دغه مقالې په انتخابي توګه د دغه کتاب له ځینو برخو خُلاصه اوساده شوې چې اقلاً د مطالعې مینه والو ته په زړه پورې شي، دوام لري.
ټول کتاب به تر بشپړ ادیت وروسته ډېر ژر د افغانستان د اقتصاد د پوهنځیو واک کې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ